ليکنه : مودودي
ژباړه : عبدالرحمن فرقاني
۲۰۱۰/۰٤/۳۰م

په لومړي باب کې موږ پوه شوو چې د الله تعالی د اطاعت لپاره د صحيح علم حاصلولو ته اړتيا وي او دا علم بايد د يقين او باور تر حده رسيدلی وي ، او دا علم بايد د الله تعالی د هغو غوره شويو بنده ګانو څخه حاصل شوي وي چې الله تعالی دا علم دوي ته د وحي له لارې رسولی دی تر څو يې نورو انسانانو ته ورسوي او دا غوره شوي بنده ګان (پيغمبران ) دي . اوس راځي چې وګورو چې مودودي صاحب د پيغمبرانو د حقيقت اړوند څه وايي .

# اسلامي ارزښتونه، دريم باب(شپږمه برخه)

## نبوت

د پيغمبرۍ حقيقت, د پيغمبر پيژندنه, د پيغمبر اطاعت په پيغمبر باندي د ايمان راوړلو اړتيا , د پيغمبرۍ لنډ تاريخ د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نبوت, د محمدي نبوت ثبوت، ختم نبوت, د ختم نبوت دلايل.

په دوهم باب کې تا ته درۍ خبرې وشوې :

لمړۍ خبره دا چې دالله تعالی د اطاعت لپاره، د الله تعالی په ذات اوصفاتو او د الله تعالی په غوره شوې تګلاره اوپه آخرت کې سزا اوجزا دپوهيدو لپاره صحيح علم ته اړتيا ده, او دا علم بايد داسي وي چې د هغه په پايله کی کامل يقين او باور حاصل شي.

دوهمه خبره دا چې الله تعالی انسان په دومره لوی امتحان کې ندی اچولی چې دا علم د خپل ذاتي کوښښ اوزيار په پايله کې حاصل کړي بلکه دا علم ده ته د ځينو غوره شويو بنده ګانو( پيغمبران ) له لارې رسيدلی دي ، چې الله تعالی به دوی ته دا علم د وحي له لاري وررساوه، او دوی ته حکم شوي دی چې نورو بنده ګانو ته يې ورسوي .

دريمه خبره دا چې د عامو انسانانو مسؤليت دا دی چې د الله تعالی سپيڅلي پيغمبران وپيژني, کله چې انسان ته مالومه شي چې فلانی سړی په حقيقت کې د الله تعالی ريښتينئ پيغمبر دی , نو پکار ده چې کومه لارښونه چې هغه ورته کوي په هغه باندي ايمان راوړي , او څه چې هغه ورته حکم کوي هغه ومني ,او په کومه لاره چې هغه ځي د هغه پيروي وکړي .

اوس له هر څه وړاندي موږ غواړو تا ته روښانه کړو چې د پيغمبرۍ حقيقت څه دئ او د پيغمبرانو د پيژندنی څرنګوالی څه ډول دی .

### دپيغمبرۍ حقيقت :

ته خوويني چې په دنيا کې انسان کومو شيانو ته اړتيا لري الله تعالی د دې ټولو شيانو انتظام په خپله کړئ دی , ګوره : طفل چې کله پيدا شي له څومره ډيرو شيانو سره الله تعالی دنيا ته راليږلی وي , د ليدلو لپاره سترګي , د اوريدو لپاره غوږونه , د بويولو او سا اخيستلو لپاره پوزه , د محسوسولو لپاره په ټول جسم کی دلامسه قوت , د تللو لپاره پښي , د کار کولولپاره لاسونه , د فکر کړلو لپاره دماغ , او داسي بې شميره نو شيان چې له وړاندې يې د ده د اړتياو لحاظ کړئ وي د ده په واړه جسم کی ځاي پرځاي کړي وي , وروسته کله چې په دنيا کي قدم کيږدي د ژوند کولو لپاره ده ته دومره شيان وجود لري چې ته يې شميرلی نشي , هوا ده , رڼا ده , حرارت دی, اوبه دي, ځمکه ده, د مور په سينه کې له وړاندې شيدې پيدا شوې وي, د مور اوپلاراوخپلوانو اوآن تردې چې د پرديو په زړونو کې د ده لپاره مينه او شفقت پيدا شوی وي چې په پايله کې يې د ده پالنه او روزنه کيږي , وروسته هر څومره چې وده کوي په هغه کچه ورته د اړتيا هر ډول شيان برابريږي او داسې برېښي چې ګواکې د ځمکه اوآسمان ټول قوتونه د ده د پالنې او خدمت لپاره په کار آخته دي.

لدې څخه چې وړاندې ولاړ شو په دنيا کې چې انسان څومره قابليتونو ته اړتيا لري هغه ورکړل شوي دي , جسماني قوت, عقل, پوهه, خبرى کول اوخيړل, او دا راز نور شيان په هر انسان کې لږاوديرشته دي, خو دلته الله تعالی عجيب انتظام کړئ دی, ټول قابليتونه ټولو انسانانو ته په يوه کچه ندي ورکړ شوي , که داسې وی نو هيڅوك به بل چا ته محتاج نوی, نه به يوه انسان د بل انسان پروا درلوده, دا راز الله تعالی د مجموعي ضرورتونوله لحاظه هغه ټول قابليتونه په انسان کي پيدا کړي خوچا ته يې يو قابليت دير ورکړی اوچا ته يې بل قابليت, ته ګوري چې د جسماني زحمتکشيۍ له لحاظه ځيني خلك له نوروخلکو نه وړاندې وي , اوپه ځيني خلکو کې د کومه ځانګړې پيشې يا هنرقابليت وي چې نورخلک ورڅخه محروم وي, او د بعضو د ذهانت اوعقل قوت له نورو څخه دير وي, اوځيني خلک خو پيدايشي سپه سالاران وي, په بعضو کې د حکمرانۍ ځانګړئ خصوصيت وي, ځيني خلک د بيانيې ورکولوغير عادي قوت لري, په بعضو کې د ليکلو فطري ملکه وي, کوم څوك داسي پيدا شوي وي چې دماغ يې په رياضي کي ښه کار کوي حتی د دې هنر په اړوند هغه ستونزمن اوپيچيده سوالونه چې د نورو ذهن ورته نه رسيږي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

په ډیره سادګۍ حلوي, یوبل سړی داسې وي چې عجیب عجیب شیان جوړولی شي او د ده اکتشاف ته نړۍ حیرانه پاتې وي , یو بل سړي د یوه داسي قانوني دماغ خاوند وي چې هغه د قانون کشالوحل ته چې نور ورته ورسته له دیر غور او فکر څخه نه شي رسیدلی دهغه فکر او دماغ په ډیره سادګۍ ورته رسیږي, دا د الله تعالی ورکړه ده, هیڅ څوك په خپل ځان کې دا قابلیتونه نه شي پیدا کولي, نه د تعلیم او روزنه څخه دا قابلیتونه پیدا کیږي, په اصل کی دا پیدایشي قابلیتونه دي چې الله تعالی د خپل حکمت په اساس هر چا ته چې کوم قابلیت غوښتی وي ورکړی دی .
د الله تعالی پدې ورکړه باندې چې غور وکړې نو تا ته به مالومه شي چې د انساني تمدن اوپرمختګ لپاره چې کومو قابلیتونو ته ډیره اړتیا وي هغه یې په انسانانو کې دیر پیدا کړی دی، او هغو قابلیتونو ته چې کمه اړتیا وي هغه یې په انسانانو کې کم پیدا کړئ دي . جنګیالی دیر پیدا کیږي, دهقانان او کارګران او آهنګران دا راز د نورو کسبونوخلك دیر پیدا کیږي, خو د علمي او دماغي قوت خاوندان او د سیاست اوسپه سالارۍ د قابلیت خاوندان لږ پیدا کیږي , او هغه خلك لا نورهم لږ پید کیږي چې د کوم ځانګړی هنر خاوندان وي, ځکه چې د دوی هنري لاسته راوړنې د پیړیو لپاره نور انسانان د هنري ماهر د اړتیا څخه بې نیازه کوي .
اوس دا فکر کول پکار دي چې د کامیاب انساني ژوندانه لپاره صرف دا یوه اړتیا خو نده چې په انسانانو کې انجینر , ریاضي دان, ساینس پوه, قانون پوه, د سیاست ماهر , اقتصاد پوهان اودانساني ژوندانه د مختلفو شعباتو لپاره د مختلفو قابلیتونو خاوندان پیدا شي, لدې ټولو سربیره یوه بله مهمه اړتیا هم شته هغه دا چې باید کوم څوك داسي هم وي چې انسان ته د الله تعالی لاره وښي , نورخلك خو صرف دا په ګوته کوي چې پدې نړۍ کې د انسان لپاره څه شته او لدې شیانو څخه څرنګه ګټه اخیستی شي, خو یو څوك داسي هم باید وي چې نورو ته وښي چې په خپله انسان د څه لپاره دی ؟ او انسان ته دا ټول شیان چا ورکړي دي ؟ او د هغه ورکوونکی رضا په څه کې ده تر څو انسان د هغی مطابق خپل ژوند په دنیا کې تیر کړي او هغه دایمي اویقیني برئ ومومي, دا دانسان تر ټولو لویه اواصلي اړتیا ده , او عقل دا نه مني چې هغه خدای چې زموږ هغه واړه واړه ضرورتونه یی پوره کړي وي د دې مهمې اړتیا له انتظام څخه یې غفلت کړی وي, نه هیڅکله داسي نده, الله تعالی چې کله د یوه یوه قابلیت اویوه یوه هنر خاوند انسانان پیدا کړي دي , همدارنګه یی داسي انسان هم پیدا کړی دی چې پهغه کښې د الله تعالی د پیژندنې لوړ قابلیت وي, ده ته الله تعالی د دین او اخلاقو اوشریعت علم د خپل دربار څخه ورکړی وي , اودې ته یې ګمارلی ترڅو دا شیان نورو انسانانو ته هم وښي, دا هغه خلك دي چې موږ ورته په خپله ژبه کې رسول یا نبي یا پیغمبر وایوو .

دپیغمبر پیژنده :

څرنګه چې د نورو علمونو اوهنرونو ماهر خلك د یو ځانګړی ذهن او یوځانګړی طبیعت په اساس پیدا کیږي , همدا راز پیغمبران هم د یوه ځانګړی طبیعت سره پیدا کیږي .
د یوه پیدایشي شاعر شعراوخبرې چې اورو نو داسي بریښي چې دا شاعر د شاعرۍ د ځانګړی قابلیت لپاره پیدا شوي دي, ځکه چې نور خلك هر څومره کوښښ وکړي د ده په څیر شعر نشي ویلی, همدا راز یوپیدایشي تقریر کونکی, یو پیدایشي لیکونکی , یو پیدایشي مبتکر, یو پیدایشي سیاسي زعیم, له خپلو کارنامو څخه په روښانه ډول پیژندل کیږي, ځکه چې پدوي کې هر یو د خپل کار اړوند بې ساره قابلیت ښي چې په نورو کې نوي همدا صورتحال د پیغمبرانو هم دي, د دوي په ذهن کې هغه خبرې راځي چې د نورو انسانانو په ګمان کې هم نوي, دوي موضوع ګانې داسي څیږي چې لدوي پرته نور انسانان یې هغسي نشي څیړلی، د دوي فکر داسي باریکو خبروته خود بخود رسیږي چې د نورو فکر د کالونو له غور څخه ورسته هم نشي ورسیدلی, هغوي چې څه وایی موږ ته د قبول وړ وي , زموږ زړونه شهادت ورکوي چې ضرور به همداسي کیږي, د دنیا له تجربو اود کایناتو له کتلو څخه د دوي یوه یوه خبره ریښتیا ثابتیږي, او که موږ په خپله داسي خبرې کول وغواړو نشوو یې کولی, د دوي طبیعت داسي پاکیزه وي چې هغوي په هره معامله کی ریښتینی وي, سمه اوشریفانه کړنلاره خپلوي, هغوي هیڅکله غلطه خبره نکوي, کوم نا روا کار نکوي, همیشه د صداقت اونیکۍ تعلیم ورکوي, او څه چې نورو ته وایی هغه کار په خپله کوي , د دوي په ژوندانه کې هیڅ داسي مثال نه پیدا کیږي چې څه ووایی د هغه خلاف عمل وکړي, د دوی په عمل او قول کې کوم ذاتي مقصد او ګټه نوي , دوي د نورو د ګټې لپاره خپل ځان ته نقصان قبلوي او د خپلی ګټې لپاره نورو ته نقصان نه رسوي, د دوي ټول ژوند ریښتیا, شرافت, پاکي , سپیڅلی فکر, او د لوړې درجې د انسانیت نمونه وي چې د پلټنې نه ورسته هم کوم عیب پدوي کې نه ښکاریږي , د دغو شیانو له لیدلو څخه روښانه کیږي چې دا سړي د الله تعالی ریښتنی پیغمبر دي.

د پیغمبر اطاعت :

کله چې دا مالومه شي چې فلانی سړی د الله تعالی پیغمبر دی, د هغه خبره منل, دهغه اطاعت کول, دهغه د طریقې پیروي کول ضروري وي, دا دعقل څخه بالکل خلاف خبره ده چې یو سړی پیغمبر ومنل شي اوبیا د هغه خبره ونه منل شي, ځکه چې د پیغمبر د منلو مانا دا ده چې تا دا قبوله کړې چې هغه څه وایي دالله د اړخه یې وایي, او څه چې کوي د الله تعالی د رضا مطابق یې کوي, اوس چې ته د ده خلاف څه وایی او یا څه کوی هغه د الله تعالی خلاف وایی او کوی , او کومه خبره چې دالله تعالی خلاف وي هغه خبره هیڅکله حق نشي کیدلی, د دې لپاره دچا له پیغمبر منلو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځخه دا خبره په خپله لازميږي چي هغه چي کومه خبره کوي هغه خبره بايد پرته له چون اوچرا ځخه ومنل شي او د هغه د حکم په وړاندي بايد سر ټيټ شي, پرته لدې چي د دې خبرې په حکمت اوګټه ته پوه شي اويا پوه نشي , کومه خبره چي د پيغمبرله اړخه وي همدا دې هغې خبرې د رښتياتوب دليل کيدلاي شي, او ټول مصلحتونه اوحکمتونه پکښی نغښتی وي, که ته د کومي خبرې په مصلحت نه پوهيږي دا د دي دليل نشي کيدلاي چي پدې خبره کې کومه خرابي ده بلکه د دې مانا دا ده چي ستا په خپله پوهه کې خرابي ده . کوم سړی چي د کوم ځانګړي هنر ماهر نوي ظاهره ده چي د هغه هنر په باريکيونه پوهيږي, مګر دی به دير لوي ساده وي چي محض د دې لپاره د هنر د ماهر خبره ونه مني ځکه چي دي پرې نه پوهيږي.

ګوره: د دنيا په هرکار کې د هغه کار ماهر ته اړتيا وي او ماهر ته د ورتګ ځخه وروسته په هغه کار دير ډاډ کيدلای شي او د ماهر په کار کې دخالت نه کيږي, ځکه چي ټول خلك د ټولو کارونو ماهران نشي کيدلای او د دنيا په ټولو کارونواو شيانو نشي پوهيدلي , ته خپل ټول عقل او هوښياري پدې کې مصرفوي چي يوښه اوتکړه ماهر پيدا کړي , کله چي د چا په اړوند تا ته دا يقين حاصل شي چي هغه ښه ماهر دي نوبايد پوره باور وربإندي وکړي , لدې ورسته د ده په کارونو کې مداخله او په هر خبره کې دا غوښتنه کول چي اول ما پوه کړه که نه زه يې نه منم دا د عقلمندي خبره نده بلکه سراسر بي عقلي ده, کوم وکيل ته د خپلې معاملې له سپارلو ځخه وروسته هغه ته دلايل وړاندي کول وکيل دې ته هڅوي چي تا د خپل دفتر ځخه وباسي, د کوم ډاکټر ځخه د هر هدايت په هکله دليل غوښتل به ضرور هغه ډاکټر ستا درملنه پيرږدي , د مذهب معامله هم همداراز ده , تا ته د الله تعالی په اړه د علم حاصلو اړتيا ده , ته دې ته اړتيا لرې چي پوه شي چي دالله تعالی د رضا مطابق ژوند کول طريقه کومه ده, ستا سره په خپله د دغو معلوماتو په هکله کومه ذريعه نشته, اوس ته دې ته اړ يې چی د ريښتيني پيغمبر پلټنه وکړي, پدې پلټنه کې بايد دير په زيرکۍ اوهوښيارۍ ګام پورته کړی, ځکه که چيری تا کوم غلط سړی پيغمبر وګڼه نو تا به په غلطه لاره روان کړی, مګر کله چي تا ته وروسته له غور اوښه فکر ځخه دا يقين پيدا شي چي فلانی سړی د الله تعالی ريښتينی پيغمبر دي نوبايد په هغه باندې پوره اعتماد وکړی او د هغه دهر حکم اطاعت وکړی.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ